# څو عشقی شعرونه

-----------------------------

## خبری وکه

با لښت کي مي سرکیږده د مزي خبری وکه
ځما سره د خپل مینې تودې خبری وکه
هغه ورځی را یا د که چی یو بل مو ولید ل
ځما عذ ر و زاری د خپل نخری خبری وکه
په نازاوپه مکیزوغمګین زړه می خوشحا ل که
ځما د اورین مینې د افسا نی خبری وکه
په مینه وعده راکه چی مي نه پریږدی یواځي
«مل» غوږ درته نیولی څو خوږی خبری وکه

جرمنی (2019-01-16)

## لوخ مینه

تنۍ دی وه را خلاصه ځما نظر پری ولویده
یاغی دواړه هیلی دی په هر پل کی خوځیده
دوه سترګی می لیدو سره هیڅ نه مړید له
ځیر ځیر چي مي کتل ټول صورت می تخنیده
په ځا ن نه پوهیدم بیګا نه اومه له شرمه
رګو کی می د مینی سری سکروتی ګرځیده
زه مخکی روږده نه اوم د خوبا نو په مینه
«مل» ځکه ستا لید و سره بی واک ویا ریده

جرمنی (2019-01-10)

## وسوځيده

ځواني مي ستا د ميني په انګا ر وسوځيده
دتا پسی چی زړه مي بی اختيا ر وپاريده
ځما دی پام ونه سا تل د ښکلو لوی اميره
زړګی می درپسی وار په وار و ټوپيده
له تا مي هيله نه وه چي يوائحی مي پريږدی
جفا کی دی می اوښکی په تکرار و څڅيده
يوځل دی هم په مينه هيڅ ونه کتل (مل) ته
دوه سترګی د ستا په خوا با ربا رډير لګيده
-------------------------------- جرمنی (2019-01-10)

## منلی

د زړه د تل په دړه کی مي نوم ستا ليکلي
د ستا په بيلتا نه کی هره ورځ می ژړلي
پرهيز با ندي ختلي هره ورځ دی يادوم
هيڅ زړه می نه صبريږی زړه چی تا پسی تللی
د مينی په ابا سين دی بيواکه ولويد لي
دستا وصا ل د پا ره هر زحمت می قبول کړي
پوهيږی چي ستا مينه د(مل) زړه کی ننوتي
له هغی ورځی چی ته می مخامخ په مخ را غلي
-------------------------------- جرمنی(2019-01-03 )